ابادي اوونیزه
هفته نامه آبادی
ABAADI ONLINE WEEKLY
د اقتصـادي او تــولنیزو مسایلـــو په برخــه کــې
د ریاســت الوزراء اقتصادي معاونیت خبري اوونیزه
گڼــه: ۳۷ | مسلسل نمبر: ۷۹
شنبه، د جمادی الآخرة ۲۶ مه، ۱۴۴٦ هـ.ق کال



## د شاوخوا ۱۴۵ میلیون ډالرو په پانګونې سره د لوګر ســیمنټو تولیدي کارخونې تړون لاسلیک شو


۲ صفحه

## د اقتصادي کمېسیون د تخنیکي کمېټې له لوري یوشمېر موضوعات د تایید وړ وبلل شول


۳ مه صفحه

## له کورنیو محصولاتو څخه د ګټې اخیستنې په برخه کې د اسلامي امارت هڅې


۴ مه صفحه




د ریاســـت الوزراء اقتصادي مرســـتیال محترم ملا عبدالغني بـــرادر اخوند په حضور کې د روان ۱۴۰۳ لمریز کال د جدې میاشتې په څلورمه نېټه د کانونو او پټرولیم وزارت او خصوصي شرکت ترمنځ د لوګر سیمنټو تولیدي کارخونې تړون لاسلیک شو. دغه کارخونه د لوګر ولایت په التمور سیمه کې موقعیت لـــري چې خصوصي شرکت به یـــې د جوړولو لپاره شاوخوا ۱۴۵ میلیون ډالر پانګونه کوي او په ورځني ډول به د ۲۵۰۰ ټنه سیمنټو د تولید ظرفیت ولري.

سیمنټ زموږ د هېواد یوه اړتیا ده چې له هغو پرته د زیربناوو جوړول امکان نه لري. په افغانستان کې د اشغال او جګړو پرمهال د هېواد د سیمنټو تولیدي فابریکې یا خو ویجاړې او یا یې هم فعالیت په ټپه ودرېد. اوســـمهال له دې فابریکو څخه د بغلان د غوري او د پروان د جبل السراج د سیمنټو فابریکې بیرته فعالې شوې دي. دا د هېواد د اقتصادي ودې په برخه کې یو مثبت ګام دی، خو په بشـــپړ ډول د سیمنټو په برخه کې د هېواد اړتیا ته ځواب نه شي ویلای او یوازې لس ســـلنه اړتیا پوره کولای شي. اوسمهال افغانســـتان د کال په ســـلګونو زره ټنه سیمنټ له خپلو ګاونډیو هېوادونو څخه واردوي. له دې درکه په زیاته پیمانه اسعار له هېواده وځي چې دا د هېواد اقتصاد ته یوه ضربه ده. ددې له پاره چې هم مو اســـعار بهـــر ته ونه وځي او هـــم د اړتیا وړ سیمنټ په کور دننه تولید کړو، نو ښه خبره داده چې د ســـیمنټو د تولید فابریکې جوړې او په دې برخه کې پانګونه راجلب کړو. د افغانســـتان اســـلامي امارت د ســـیمنټو اړتیا ته په کتو پـــه هېواد کې د سیمنټو فابریکو بیارغونې او د نویو فابریکو جوړولو ته مخه کړې ده. له دې کارخانو څخه کولای شو د بغلان غوري، د پروان، جبـــل السراج، د کندهار، شوراندام، د جوزجان یتیم تاق او د هرات د سیمنټو فابریکو ته اشاره وکړو. تر دې مهاله اسلامي امارت د ســـېمنټو د تولید په برخه کې له کورنیو او بهرنیو شرکتونو سره د شاوخوا ٦۲۳ میلیون ډالرو په ارزښت قراردادونه لاســـلیک کړي دي. اوس دادی د لوګر پـــه ولایت کې د ۱۴۵ میلیون ډالرو په ارزښـــت د ســـیمنټو د تولیدي کارخونې تړون لاســـلیک شو. ددې فابریکو په فعالیت سره به د ســـیمنټو د تولید کچه لوړه او تر ډېره بریده به د اړتیا وړ ســـیمنټ په کور دننه تولید شي. لـــه دې سره به له یوه لوري د اړتیا وړ ســـیمنټ برابر، اقتصادي وده به چټکه او ترڅنګ به یې ســـلګونو زرو کســـانو ته د کار زمینه برابره شي. دغه راز به نور افغانستان اړ نه وي چې د سیمنټو د پیر له درکه ګاونډیو او یا نورو هېوادونو ته په میلیونونو افغانۍ ورکړي.

# د شاوخوا ۱۴۵ میلیون ډالرو په پانګونې سره د لوګر سیمنټو تولیدي کارخونې تړون لاسلیک شو

د ریاســتالوزراء اقتصادي مرستیال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند په حضور کې د روان ۱۴۰۳ لمریز کال د جدي میاشــتې په څلورمه نېټــه د کانونــو او پټرولیم وزارت او خصوصي شرکت ترمنځ د لوګر سیمنټو تولیدي کارخونې



ټرون لاســلیک شو. دغه کارخونه د لوګر ولایت په التمور ســیمه کې موقعیت لري چې خصــوصي شرکت به یې د جوړولو لپاره شــاوخوا ۱۴۵ میلیون ډالر پانګونه کوي او په ورځنۍ ډول به د ۲۵۰۰ ټنه سیمنټو د تولید ظرفیت ولري. په دغه کارخونه کې به سلګونو هېوادوالو ته کاري فرصت برابر او همدا راز به د خصوصي شرکت له لوري د ســیمې اوســېدونکو ته پــه روغتیایي او ښــوونیزو برخو کې هم خدمات وړاندې شي.

د یادونې وړ ده چې د اسلامي امارت په راتګ سره د کانونو او پټرولیم وزارت او خصوصي ســکټور ترمنځ د سیمنټو د څلورو سترو پروژو قراردادونه لاسلیک شوي، چې شاوخوا ۶۲۳ میلیون ډالره پانګونې پکې کېږي او اوســمهال یې کارونه په چټکۍ سره روان دي.

# د اقتصادي کمېسیون د تخنیکي کمېټې له لوري یوشمېر موضوعات د تایید وړ وبلل شول

د اقتصادي کمېســیون د تخنیکي کمېټې نوبتي غونډه د روان ۱۴۰۳ لمریز کال د جدي میاشتې په دریمه نېټه په مرمرینــه ماڼۍ کې ترسره او له اجنډا سره ســم د وړاندې شوو موضوعاتو په اړه بحث وشو. دې غونډې ته د منرالونو



د اولویت بندۍ ســند او د ســتر مقیاس معدني موادو پروسس په موخه د معدني ساحو د ځانګړې کولو طرحه د بحث لپاره وړاندې شــوه. دغه سند او طرحه تر هراړخیزې ارزونې وروسته د تخنیکي کمېټې له لوري د راغلو تعدیلاتو په نظر کــې نیولو سره د تایید وړ وبلل شــول او د نهایي تصمیم نیونې په موخه اقتصادي کمېسیون ته راجع شول. همدارنګــه په دغه غونډه کې له کوکچې ســیند څخه تر ابدان دښتې پورې د کانال جوړولو پر طرحه هم بحث وشو او په اړه یــې لازم تصمیم ونیول شــو. دې غونډې ته د کــمال خان بنــد د دویم فاز (قلعه افضــل بند) د امکان سنجۍ په تړاو د ټاکل شوې کمېټې راپور هم وړاندې شو چې د تخنیکي کمېټې لــه لوري تایید او د نهایي تصمیم نیونې په موخه اقتصادي کمېسیون ته راجع شو. د غونډې پــه پای کې د یوځل کارېدونکي پلاســتیک د کنټرول او کمولــو طرحې پــه اړه هم بحث وشــو. د دغه طرحې له هراړخیزې ارزونې وروســته د چاپېریال ساتنې ملي ادارې ته سپارښتنه وشوه، څو د ښکېلو وزارتونو او ادارو د نظرونو په پام کې نیولو سره یاده طرحه غني او د تطبیق په موخه یې له خصوصي سکټور سره مجالس ترسره کړي.



ABAADI ONLINE WEEKLY

د اقتصادي او ټولنيزو مسايلو په برخه کې
د رياست الوزراء اقتصادي معاونيت خبري اوونيزه

اوونيزه
ابادي
هفته‌نامه آبادی


## له کورنيو محصولاتو څخه د ګټې اخيستنې په برخه کې د اسلامي امارت هڅې

اسلامي امارت د هېواد د کرنې او مالدارۍ سکتور په خپلو لومړيتونو کې نيولی او د دغه سکتور د پياوړتيا په موخه يې اساسي هڅې پيل کړې دي. له دې هڅو يوه هم د کورنيو کرنيزو او مالدارۍ محصولاتو څخه د ګټې اخيستنې کړنلارې مسوده ده چې د کرنې، اوبولګولو او مالدارۍ وزارت له لوري جوړه شوې ده. د دغه کړنلارې اصلي موخه د هېواد د بزګرانو او مالدارانو د اقتصادي ودې د پياوړتيا په موخه له کورنيو کرنيزو او مالدارۍ محصولاتو څخه ملاتړ دی، څو په کور دننه او بهر کې ورته ښه بازارموندنه وشي او همدا راز هېوادوال د بهرنيو کرنيزو او مالدارۍ محصولاتو پر ځای له کورنيو هغو استفاده وکړي. د دې کړنلارې له مخې به ټول بزګران او مالداران د صحي او لوړ کيفيت لرونکو کورنيو محصولاتو د کچې لوړولو ته وهڅول شي، د موسمي ګمرکي تعرفو د وضعه



کولو له لارې به د اړوندو ادارو په ګډه همغږۍ د کرنيزو او مالدارۍ محصولاتو بيې راټيټې، کيفيت لوړ او د احتکار مخنيوی به وشي.

له کورنيو کرنيزو او مالدارۍ محصولاتو څخه د ملاتړ ياده کړنلاره د اقتصادي کميسيون په نوبتي غونډه کې چې د رياست‌الوزراء اقتصادي مرستيال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند په مشرۍ جوړه شوې وه، تاييد او د نهايي تصميم نيونې په موخه د رياست‌الوزراء عالي مقام ته واستول شوه. د دغه کړنلارې له تطبيق سره سم به په لومړي سر کې د ملي دفاع او کورنيو چارو وزارتونه، د استخباراتو لوی رياست او ورپسې ټولې امارتي ادارې او هېوادوال د خپلو اړتياوو د پوره کولو پر مهال يادو محصولاتو ته لومړيتوب ورکوي. په دې سره به په هېواد کې له کورنيو توليداتو څخه د ګټې اخيستنې کلتور پلی او پر مټ به يې د اقتصادي ودې ترڅنګ اقتصادي او سياسي خپلواکي رامنځته، خلکو ته به د کار زمينه برابره، د توليدونکو له لوري به نوښتونه رامنځته او ملي شتمنۍ به ورسره زياته شي.

## د کابل - لوګر د دوهم لين سړک اقتصادي ارزښت



**ليکوال: امان الله حنيفي**

### سريزه

د اقتصادي ودې او ټولنيز پرمختګ لپاره د نورو فکتورونو ترڅنګ معياري ترانسپورټ هم يوه اساسي اړتيا ده، چې پر مټ يې يو هېواد ابادېدلی شي. ترانسپورټ سکتور خورا پرمختللې او وسيع شبکې لري چې مهمې هغه يې هوايي، سمندري او ځمکنۍ دي. په نړيواله کچه ډېری هېوادونه د مسافرو او سوداګريزو توکو د انتقال لپاره له دې ټولو شبکو څخه استفاده کوي؛ خو افغانستان چې اوبو ته مستقيم لاسرسی نه لري، په کمه اندازه له هوايي او په زياته کچه بيا له ځمکني ترانسپورټ چې مهم هغه يې سړک او ريل پټلۍ دي، کار اخلي. له بدمرغه په افغانستان کې د لسيزو جګړو او بهرنيو يرغلونو له وجې د نورو زېربناوو په څېر د معياري ترانسپورټي شبکو د جوړولو فرصت هم پيدا نشو. دې چارې د هېواد پر ملي اقتصاد او همدا راز د خلکو د ژوند پر سطحې او د خدماتو وړاندې کولو پر بنه خورا منفي اغېز کړی دی. خو له نېکمرغه واک ته د اسلامي امارت په رسېدو سره په هېواد کې يو مستقل او په خپلو ټولو چارو کې خپلواک نظام حاکم شوی چې په اقتصادي لحاظ د هېواد پر پښو درول يې له لومړيتوبونو څخه دي. اسلامي امارت په اقتصادي برخه کې د ځان بسياينې لپاره د نورو هڅو ترڅنګ د معياري ترانسپورټ رامنځته کولو ته هم پام اړولی دی او په دې برخه کې يې د ټولو هغو لويو لارو او مهمو سړکونو اساسي جوړونه او بيارغونه پيل کړې، چې د هېواد په اقتصاد او د خلکو د ژوند کچې په ښه کولو کې مهم رول لري. له دې مهمو سړکونو يو هم د کابل – لوګر سړک دوهم لين دی، چې اسلامي امارت يې د لومړۍ برخې چارې پيل کړې دي. موږ

ABAADI ONLINE WEEKLY

اباډي اوونيزه

هفته‌نامه آبادی

د اقتصــادي او ټــولنيزو مسايلــو په برخــه کــې
د رياســـت الوزراء اقتصادي معاونيت خبري اوونيزه



په دې مقاله کې د دغه ســړک پر اقتصادي ارزښت لنډې خبرې کوو.

## د کابل – لوګر سړک د دوهم لین پروژه

د کابل – لوګر ســړک د افغانستان له مهمو لارو يوه هغه ده چې مرکز کابل له لوګر، پکتيا، خوســت او پکتيکا ولايتونو سره نښلوي. لوګر د افغانستان يو له هغو ولايتونو څخه دی چې د کرنــې لپاره پراخې ځمکې لري او ډېری خلک يې پر کرنه او مالدارۍ مصروف دي. دغه ولايت د کابل ښـــار د غوښې، لبنياتو، سبزيجاتو او ميوو د اړتياوو پوره کولو په برخه کې مهـــم رول لري. له همدې وجې د دواړو ولايتونو ترمنځ سوداګريز تړاو زيات او خلک يې پر غځېدلې لارې ډېر تګ راتګ لري.

له لوګر ورهاخوا بيا د هېواد په جنوب – ختيځ لوري کې پکتيا، خوست او پکتيکا مهم ولايتونه دي. په پکتيا کې د خرلاڅۍ مهمه سوداګريز لار، په خوست کې د غلام خان سوداګريز بندر او په پکتيکا کې د انګور اډې مهمه سوداګريزه لار لرو. پر يادو لارو د ترسره کېدونکې ســـوداګرۍ يوه مهمه برخه توکي د کابل – لوګر ســـړک په واسطه کابل ته را رسېږي او برعکس بيا له کابل څخه ډېرى سوداګريز مالونه د همدې لارې په واسطه يادو ولايتونو ته انتقالېږي.

له دې ورهاخوا ياد ولايتونه په ځانګړې توګه پکتيا د سياحت لپاره ښې سيمې لري چې په بېلابېلو وختونو کې زيات شمېر کورني او بهرني ســـيلانيان ورځي. دغه شمېر سيلانيان د کابل – لوګر سړک له لارې لومړی لوګر او وروسته پکتيا ته رسېږي.

پورته ذکر شـــوو او نـــورو ځانګړنو ته په کتـــو سره د هېواد د سوداګريزې ودې، د ترانسپورټ په برخه کې د معياري خدماتو وړاندې کولو، د لويو لارو په اوږدو کې هېوادوالو ته د کوچنيو کاروبارونو د رامنځته کېدو او په مجموع کې د ترافيکي پېښو د کچې راټيټېدو په موخه د اسلامي امارت کابينې وپتېيله چې د دغه مهم سړک د دوهم لين د لومړۍ برخې چې په کابل ښار کې دننه موقعيت لري، کارونه پيل کړي.

د کابل – لوګر سړک د دوهم لين د لومړۍ برخې استملاکي چارې مخکې ترسره شـــوې وې او د سړک جوړېدو ته زمينه برابره وه. دغه سړک اووه کيلومتره اوږدوالی او ۶۰ متره سور لري او ټولټال پرې ۹۲۰ ميليونه افغانۍ لګښـــت راځي چې چـــارې به يې پـــه دوو کلونو کې په معيـــاري ډول د کابل ښاروالۍ له لوري بشپړې شي.

د کابل ښاروالۍ مسوولينو په وينا، د ياد سړک لومړۍ برخه له نجات ځلي څخه تر چرخ آب ســـيمې پورې په دوه اصلي او دوه فرعي ليکو کې جوړېږي چې د يو معياري سړک ټولې ځانګړتياوې به ولري.

## د کابل – لوګر سړک د دوهم لین اقتصادي ارزښت

د کابل – لوګر ســـړک دويم لين به نه يوازې د کابل او لوګر ترمنځ د ســـوداګرۍ په وده کې مهم رول ولوبوي، بلکې د کابل، لوګر، پکتيا، خوســـت او پکتيـــکا ولايتونو تر منځ د مســـافرو تګ راتګ، د همدې لارې په اوږدو کې د کوچنيو کاروبارونو د غوړېدو، د ترافيکي پېښو په مخنيوي او همدا راز به د ياد ســـړک د دواړو لينونو په خوندي ساتلو کې هم مهم رول ولوبوي.

د کابل - لوګر ســـړک د افغانستان له مهمو ترانسپورټي لارو څخـــه ګڼل کيږي، چې جنوب - ختيځ ولايتونه له پلازمېنې کابل سره نښلوي او د اقتصادي زون په توګه به د لوګر ولايت په اقتصادي وده کې ګټور تمام شي. همدارنګه به د لوګر ولايت د مـــس عينک کان په اســـتخراج، له پکتيا، خوست او پکتيکا ولايتونو څخه کابل ته د جلغوزيو په ليږد کې اساسي او مهم رول ولوبوي.

د لوګر پر مـــس عينک کان سربېره به په دغه ولايت کې د نورو کانونو د اکتشـــاف او استخراج لپاره هم زمينه برابره، د دغه ولايت په مرکز پل علم کې به د صنعتي پارکونو ودې او په مختلفو برخو کې پانګونې ته هم فرصت برابر کړي. د دغه سړک د دوهم لين جوړول يوه لويه پرمختيايي پروژه ده چې هدف يې د سړک د تګ راتګ د جريان ښه کول، د ترافيکي فشار راکمول او د سفر د وخت کمول دي.

## پا یله

د کابـــل - لوګر ســـړک د دوهم لين جـــوړول نه يوازې د ترافيکي فشـــار د کمولو، بلکې د افغانستان د ترانسپورټي سيســـتم د معياري کولو، د مرکز کابل او لوګر په شمول د هېواد د څلـــورو مهمو جنوب – ختيځـــو ولايتونو ترمنځ د سوداګريز تړاو غښـــتلي کولو، د دې سړک په اوږدو کې خلکو ته په اسانه ډول د خدماتو وړاندې کولو، د ياد سړک په اوږدو کې د اقتصـــادي فعاليتونو د پيل، په تېرېدونکو ســـيمو کې د نورو زېربنايـــي پروژو د پيل لپـــاره د زمينې برابرولو، د ســـفر وخت کمېدو او په مجموع کې د خلکو د ژوند کچې ښه کولو لپاره يو ستر ګام دی. اسلامي امارت په ښـــه ډول د دې پروژې بشپړولو ته ژمن دی چې چارې به يې په اســـاسي ډول د کابل ښاروالۍ له لوري په ټاکل شوي وخت کې پای ته ورسېږي.

## د بهرنيو اسعارو بيې

د کابـــل په شهزاده ســـرای کې د افغانۍ پر وړاندې د بهرنيو اسعارو د نن ورځې بيې



| اندازه | پولي واحد | پېرل | پلورل |
|---|---|---|---|
| ۱ | امريکايي ډالر | ۷۰,۳۰؋ | ۷۰,۳۵؋ |
| ۱۰۰۰ | پاکستانی کلداري | ۲۴۳؋ | ۲۴۳؋ |
| ۱۰۰۰ | ايراني تومن | ۱,۲۷؋ | ۱,۲۷؋ |
| ۱ | اروپايي يورو | ۷۳,۳۱؋ | ۷۳,۳۷؋ |
| ۱ | روسی روبل | ۰,۶۶؋ | ۰,۶۷؋ |

| اندازه | پولي واحد | پېرل | پلورل |
|---|---|---|---|
| ۱۰۰۰ | هندی کلداري | ۸۲۳؋ | ۸۲٤؋ |
| ۱ | انګليسي پوند | ۸۸,۳۸؋ | ۸۸,٤٤؋ |
| ۱ | سعودي ريال | ۱۸,٦۷؋ | ۱۸,٦۸؋ |
| ۱ | اماراتي درهم | ۱۹,۱٤؋ | ۱۹,۱۵؋ |
| ۱ | چيني ين | ۹,٦۳؋ | ۹,٦٤؋ |